# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

**عباس او دسیسه جوړوونکې دړلې د عرب لیگ له تربیون څخه فلسطیني مسلې ته له خیانت ډکې حللارې ته غاړه کېښوده!**

د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر وړاندې د خاینینو یوې ډلې په عرب لیگ کې سره وکتل، ترڅو د شرمناکې معاملې په اړه دریځ ونیسي. د ټرمپ د ټرون په اړه د دوی دریځ کمزوری او له دسیسې ډک کار دی. دا ناسته د ولسمشرانو په کچه نه، بلکې د بهرنیو چارو د وزیرانو په کچه وه. دوی د معمول په څېر څوروونکې ویناوې وکړې، چې د فلسطین د مسلې په اړه یې له خیانت څخه ډکې حللارې ته د یهودي دولت او دوه دولتونو په رسیمت پېژندلو ته غاړه کېښوده. دوی همدا راز یهودانو ته ۷۸سلنه سپېڅلې خاوره د امتیاز په توگه ومنله.

دوی د عربستان نوښت ته خپله غاړه اېښودل تایید کړل، چې په عامه توگه بشپړ نارمل حالت ته د یهودانو راگرځول و؛ ځکه چې له یهودي دولت سره د دوی نامعلومې اړیکې نه دي بندې شوې. د دوی خیانت او دسیسې تاییدوي چې دوی د یهودي دولت د سفارتونو یا له دوی سره د لاسلیک شوو تړونونو ختمولو ته له اشارې پرته په خپلو ویناوو یا په خپله وروستۍ اعلامیه کې اړیکه نه ده نیولې، نو ځکه یې ناسته کمزورې، ذلیله او د یهودي حضور ډاډ ورکوونکې وه.

عباس د معمول په څېر فرصت تر لاسه کړ، ترڅو د خپل رول او ناوړه واک په اړه ویاړ وکړي، چې یهودانو ته وړیا خدمت کوي. په داسې حال کې که چېرې د فلسطیني ادارې هڅې نه وای، دوی به دا خدمتونه په خوب کې هم نه وای لیدلې. د هغه ظلم دې کچې ته رسېدلی چې یهودانو ته یې د دوی د اجېنټ او د هغوی د ناوړه امنیت د رول په یادولو سره وویل: «زه اوس دا وړتیا لرم چې داسې معلومات درکړم، چې تاسو په خوب کې هم نه وي لیدلي.» هغه ټینگار وکړ چې دې ایالت ته د رسېدو یوازینۍ لاره خبرې اترې دي او اشاره یې وکړه چې هغه له خبرو اترو څخه لاس نه اخلي، حتا که پرمختگ یې هم نه وي کړی!

عباس د خبرو اترو او یهودانو ته د خدمتونو کولو په اړه د هغه درغلي د مسلمانانو د احساساتو او د هغو بې رحمانه چلندونو لپاره یوه درنه ننگونه ده، چې که هغه د غدارانو په ډله کې نه وای ناست، نو د دې کیسې د بیانولو جرأت یې نه کاوه؛ چې پیل، پای او پېښې یې د لمر په څېر روښانه دي.

عباس له الله سبحانه وتعالی او له صالح مومنانو سره د دښمنۍ تر څنگ ټینگار کوي، چې هغه به له کفري هېوادونو سره د اسلام دښمنان ځاري. دی وایي، موږ امنیتي تړونونه لرو او چمتو یو چې له هر هغه هېواد سره چې له ترهگرۍ سره مبارزه کوي، همکاري وکړو او موږ دا پالیسي ځارو او له هغې څخه به بهر نشو! په بل عبارت، هغه له اسلام سره په مبارزه کې خپله ژمنه تاییدوي. هغه فکر کوي چې امریکا او یهودیان به هغه سپک نه کړي، په هر صورت دوی د اوسلو له تړون څخه د نوي خیانت غوښتنه وکړه، ځکه چې یاد خیانت د عباس، د هغه د سازمان، ټولو هېوادونو او واکمنانو څخه لوی دی. هغوی له داسې شرم سره ځانونه مخامخ کړل، چې مبارزه ورسره نه شي کړلی، ځکه چې د یهودیانو واقعیت د الله سبحانه وتعالی په کتاب کې د هغو خلکو لپاره څرگند دی، چې ایمان لري، الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذاً لاَّ يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيراً﴾

[النسأ: ۵۳]

***ژباړه:** ایا یهودیان په حکومت کې برخه وال دي؟ که داسې وی، نو دوی به نورو خلکو هېڅ حق نه وی ورکړی.*

سربېره پردې، دوی هېڅ تړون نه پوره کوي، هغه که هر څومره کمزوری هم وي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿أَوَكُلَّمَا عَاهَدُوا عَهْدًا نَبَذَهُ فَرِيقٌ مِنْهُمْ﴾

[البقره: ۱۰۰]

***ژباړه:** ایا تل داسې نه دي شوي، چې کله یې څه ژمنه کړې؛ نو له هغوی څخه یوې نه یوې ډلې ورته شا کړې ده؟*

سربېره پر دې هغه د اسلام په دښمنانو پورې تړلی دی او له نړیوالې ټولنې، امنیت شورا او عمومي شورا څخه یې غوښتنه وکړه، چې نړیوال پرېکړه لیکونه پلي کړي او پر یهودي دولت فشار راوړي چې کمزوري دولت ته خپل واک ورکړي. په هر صورت دا ډېره لېږې خبره ده او الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا * الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾

[النسأ: ۱۳۸-۹]

***ژباړه:** منافقانو ته دا زېری ورکړه، چې مومنان پرېږدي او له کافرانو سره ملګرتیا کوي، چې د هغو لپاره دردناکه عذاب تیار دی. هغه کسان چې مومنان پرېږدي او له کافرانو سره د دوستۍ اړیکې ټینګوي، ایا دا خلک د عزت د لاس ته راوړلو لپاره هغوی ته ورځي؟ په داسې حال کې چې هر راز عزت یوازې د الله سبحانه و تعالی لخوا دی.*

د عباس په خبرو کې تر ټولو لوی شی د هغه پایله ده؛ لکه څنګه چې هغه په زړه پورې ایت ته اشاره وکړه، چې په جهاد کې د زغم غوښتنه کوي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾

[العمران: ۲۰۰]

*ژباړه: اې مومنانو! له زغم څخه کار واخلئ او د باطل پالونکو پر وړاندې مېړانه وښیئ. د حق د خدمت لپاره ملا وتړئ او له الله سبحانه وتعالی څخه وېرېدونکي اوسئ، هیله ده چې بری ومومئ.*

هغه دغه اسناد په داسې ځای کې وکارول، چې د یهودي حضور د ساتنې لپاره یې د الله سبحانه وتعالی د دین، د هغه سبحانه وتعالی د بندګانو په امنیت را وستلو کې نه پاملرنه ښيي. نوموړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث په ذکر کولو سربېره د فلسطین د ادارې خیانت ته غاړه ایښې ده.

**اې د سپېڅلې خاورې خلکو:**

د مجرمینو او خاینینو له دې ډلې څخه تمه نه کېږي، چې د الله سبحانه و تعالی دین ته د عقیدې جومات ته د خلاصون لپاره راټول شي، ځکه چې د هغه  ازادي یوازې ناستو، ویناوو او کنفرانسونو ته اړتیا نه لري، بلکې د لښکرو د مشرانو پرېکړو ته اړتیا لري. کارکوونکي به د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملاتړ د جګړې لپاره عمومي غوښتنه اعلان کړي او لاریون به یې پرته له دې چې ودرېږي، د اقصی په شاوخوا کې به تکبیرونه راپورته کړي.

لکه څنګه چې د پېړۍ معاملې، د اوسلو له خیانت څخه ډک تړون او PLO د نه پاملرنې پایله ده. که چېرې دا د PLO او عربي هېوادونو دریځونو او د سولې او خیانت په برخه کې د دوی دېرې هڅې نه وای، نو یهودیان او ټرمپ به دې درجې ته نه وی رسېدلي. له پېړۍ معاملې سره د دوی مصنوعي مخالفت مه کوئ، دوی له دې څخه د انکار کولو یا منلو لپاره د ځان مالک نه، بلکې د واک مشران یې د واک لپاره لیوالتیا لري، حتا که دا مسله د تېرې یوه ټوټه وي! د دوی لپاره، قدرت لویه مالي سرچینه ده، خو د خیانت اړتیا له دې څخه لویه ده او دوی نه شي کولای ترې تېر شي.

په حقیقت کې د یهودیانو او د هغوی د ساتونکو راتلونکی به ان شأالله ډېر ژر ختم شي. بیت المقدس به د دویم راشده خلافت مرکز وي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیری به رښتیا کړي او الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيباً﴾

**ژباړه:** هغوی به په سر خوځولو سره پوښتنه وکړي: «ښه نو، دا به کله وي؟» ورته ووایه: «ولې حیرانېږئ؟ هغه وخت نږدې راتلونکی دی.

[الاسرا: ۵۱]

**د حزب التحریر.ولایه فلسطین مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د جمادی الثاني ۸مه**

د فبروری ۲ مه ۲۰۲۰ م کال، 

د صدور گڼه: ۰۶ / ۱۴۴۱